# د افغانستان اقتصادي پرمختګ خبرپاڼه

درېیم کال - ۱۱ مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۳ مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۳/۲۸



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د افغانستان اړیکې د پراختیا په حال کې دي

۲- افغانستان د سیمه ییزې پانګونې جذب ته چمتو دی

۳- د مس عینک پروژې د عملي چارو پر چټک پیل ټینګار شوی

# د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د افغانستان اړیکې د پراختیا په حال کې دي



افغانستان په وروستیو کلونو کې د سیمې له هېوادونو سره د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا له پاره عملي ګامونه پورته کړي دي. په همدې لړ کې، په کابل کې د بهرنیو چارو وزارت په کوربه‌توب د افغانستان، منځنۍ اسیا او اذربایجان جمهوریت د ستراتیژیکو مطالعاتو د مرکزونو او فکري بنسټونو لومړنۍ غونډه جوړه شوه، چې د ازبیکستان، ترکمنستان، تاجکستان، قرغیزستان، قزاقستان او اذربایجان استازو په کې ګډون کړی و. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د غونډې په پرانیستونکي وینا کې وویل، چې افغانستان د منځنۍ اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ د طبیعي نښلوونکي پُل په توګه د سیمه ییز اتصال له پاره ځانګړی ظرفیت لري. نوموړي ټینګار وکړ چې د کاسا-۱۰۰۰، تاپي، ټاپ، لاجوردو لارې او افغان-ترانس اوسپنې پټلۍ په څېر سترې پروژې باید د دقیقو اقتصادي مطالعاتو او څېړنیزو ارزونو له لارې ملاتړ شي، څو د سیمې د هېوادونو ترمنځ اقتصادي همکاري او متقابل باور لا پیاوړی شي. ازبیکستان د افغانستان له مهمو اقتصادي شریکانو شمېرل کېږي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه شاوخوا ۱٫۵ میلیارده ډالرو ته رسېدلې او دواړو لوري هڅه کوي چې دا کچه له دې هم لوړه کړي. د حیرتان-مزارشریف اوسپنې پټلۍ او افغان-ترانس پروژه د دواړو هېوادونو له مهمو ګډو پروژو څخه دي. همدارنګه ازبیکستان د طوطي میدان د ګازو او بریښنا لېږد په مختلفو پروژو کې هم پانګونه کوي. ترکمنستان هم د افغانستان د انرژۍ سکتور مهم شریک دی. د تاپي ګازو نللیکه، د تورغونډۍ-هرات اوسپنې پټلۍ او د بریښنا په ګډون ځینې نورې پروژې د دواړو هېوادونو د اقتصادي همکاریو مهم بنسټونه جوړوي. قزاقستان د افغانستان د خوراکي خوندیتوب په برخه کې مهم رول لري او د غنمو او نورو غلو دانو له سترو صادروونکو هېوادونو څخه دی. دغه هېواد هم غواړي له افغانستان سره د سوداګرۍ کچه څو برابره لوړه کړي. افغانستان د منځنۍ اسیا او قفقاز سیمې له نورو هېوادونو سره مثبتې اړیکې لري او غواړي دغه اړیکې په اقتصادي او سوداګریزه برخه کې لا نورې هم پراخه کړي. افغانستان غواړي چې د سیمې هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا له لارې سیمه ییز اتصال پیاوړی کړي. د افغانستان جغرافیوي موقعیت د سیمه ییز اتصال ښه فرصتونه رامنځته کوي او د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ غواړي چې له دې فرصته د هېواد د اقتصادي وضعیت د پرمختیا، ترانزیټي همکاریو د پراختیا او د سیمې د نښلون له پاره ګټه واخلي.

# افغانستان د سیمه ییزې پانګونې جذب ته چمتو دی

افغانستان په وروستیو کلونو کې د اقتصادي ودې، سیمه ییز اتصال او پانګونې د جذب له پاره پراخه هڅې کړې دي. د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه او اړوند اقتصادي بنسټونه هڅه کوي چې افغانستان د سیمې په اقتصادي همکاریو کې په یوه فعال او اغېزناک لوبغاړي بدل کړي. په همدې لړ کې، په چین کې د افغانستان اسلامي امارت سفیر مولوي بلال کریمي د چین او سویلي اسیا د همکاریو په اوومه غونډه کې ویلي چې په افغانستان کې د امنیت د ټینګښت او اقتصاد محوره پالیسۍ له امله د پانګونې له پاره مناسب شرایط رامنځته شوي دي. ښاغلي کریمي زیاته کړې، افغانستان اوس د سیمې او نړۍ د پانګوالو له پاره د پانګونې پراخ فرصتونه لري او چمتو دی چې له چین او نورو هېوادونو سره خپلې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې لا پراخه کړي. د امنیت ټینګښت، د

اقتصادي همکاريو پراختيا او د سيمه ييز اتصال پياوړتيا هغه عوامل دي چې کولی شي د بهرنيو پانګونو لپاره رامنځته شوي فرصتونه لا وسيع او پراخ کړي. افغانستان ځانګړی جغرافيوي موقعيت لري او د منځنی اسيا او سويلي اسيا ترمنځ د نښلونکي پُل رول لوبوي. افغانستان د اسيا د دواړو برخو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزيټ فرصتونه لري. په هېواد کې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو سره د پانګونې له پاره مناسب شرايط برابر شول. د پانګونې، په ځانګړې ډول د بهرنی پانګونې له پاره مهم شرط امنيت دی، چې افغانستان اوسمهال د سرتاسري امنيت په لرلو سره د بهرنی پانګونې له پاره دغه شرط پوره کړی دی او ټول کورني او بهرني پانګوال کولی شي چې د افغانستان له خوندي چاپېريال څخه په استفادې په دې هېواد کې پانګونه وکړي. چين په وروستيو کې په افغانستان کې پانګونه کړې او د اسلامي امارت د مسوولينو غوښتنه دا ده چې چين له افغانستان سره خپلې اقتصادي همکارۍ پراخه کړي. دغه راز، افغانستان د خپلې اقتصاد محوره او متوازنې بهرنی پاليسۍ پر بنسټ غواړي چې د چين په ګډون له ټولو هېوادونو سره اقتصادي اړيکې او همکاري ولري. په هېواد کې د پانګونې د جذب له پاره د مناسبو شرايطو رامنځته کېدل او د سيمه ييزو همکاريو او زيربنايي پروژو پلي کېدل د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر ضروري دي.



## د مس عينک پروژې د عملي چارو پر چټک پيل ټينګار شوی

د مس عينک پروژه د افغانستان له سترو اقتصادي او کانيزو پروژو څخه ګڼل کېږي چې د هېواد د کانونو سکتور د پراختيا او اقتصادي ودې له پاره ځانګړې اهميت لري. د دې پروژې د عملي چارو د چټکتيا په موخه، د کانونو او پټروليم وزارت مسوولينو په کابل کې د چين د بهرنيو چارو وزارت د اسيايي چارو اداري له مسوول، د چين له سفير او د مس عينک پروژې د قراردادي شرکت له مسوولينو سره ليدلي. اماراتي مسوولينو د مس عينک پروژه د افغانستان او چين له پاره ستراتېژيکه او اقتصادي بللې او ويلي يې دي چې د پروژې د پلي کېدو پروراندې خنډونه نه شته. د پروژې له قراردادي شرکت څخه د ژمنو عملي کېدل او د اصلي چارو د ژر تر ژره پلي کېدو غوښتنه شوې ده. د مس عينک پروژه کې پرمختګ کولی شي چې د افغانستان او چين ترمنځ اقتصادي همکاري نوره هم پراخه کړي. دا پروژه نړيوالو ته دا پيغام ورکولی شي چې افغانستان د سترو اقتصادي پانګونو د جذب له پاره مناسب فرصتونه لري. د لوګر د مس عينک کان د نړۍ دويم لوی کان شمېرل کېږي. د دې پروژې پلي کېدل د افغانستان د کانونو سکتور له پاره نوی فصل پرانيزي. د مس عينک پروژې د عملي چارو په پيل سره به زرګونه نوکاري فرصتونه ايجاد شي، صنعتي پرمختګ به رامنځته او د هېواد خزانې ته به د عوايدو يوه مهمه او ستراتېژيکه سرچينه ورزياته شي.

